سمیع الدین افغاني ۲۰۱۸/۱۲/۲۹

# د وطن په یاد

پـــه وطـــن موجوړماتم دی تــورتمـونو کې مـو شپې دي
دا د کـــــوم ظـــــالم له لاسه چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

ګران وطن راته سوراورشو دوزخ لمبې تـــــري خــيژي
بــل محشر ته حاجت نه شته قیامـتـونـو کې مـو شـپې دي
دا د کـــــــوم ظالم له لاسـه چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

د کابــل هـــره کـــوڅـه مو ښکلي ښکلي خـــــاطرې دي
اوس یې وران اوویجاړګورم کـــړنګونو کې مـو شپې دي
دا د کــوم ظالــم لـــــه لاسه چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

زوړ او ځوان مو شهیدان شول ځوک بې پلاره ځوک بې موره
د چا کور جوړ قبرستان شو زیــارتونو کې مــو شپې دي
دا د کـوم ظـالـم لـــــه لاسه چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

افغانان تول تـار او مار شول     خوک په کوزاوخوک په بردي
په وطن کې چې اوســــیږي     ماتـمـونـو کې یـې شپې دي
دا د کــوم ظــالــم لــه لاســه     چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

داســلام پـــــه تـمـه تـمـه     د کــافــرو کـانـي وشـــوې
هیـځ تمـیـزکـــولای نـه شــو     په چـرتونو کې مو شپې دي
دا د کوم ظالـم لـــــه لاسه     چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

دنـیا تـولـه راتـه خانـدي     مـوږ پـه چیغو چیغو ژاړو
څـه سپین سترګي دنیاګی ده     سیاستـونـو کې مـو شپې دي
دا د کوم ظالـم لـه لاســـه     چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

"افغانی" وطن به جوړ شي     که د خــدای مــهربانـــي وه
د پــردو لاس بــه لـنديږي     امیـدونـو کې مـو شـپې دي
دا د کـوم ظـالـم لـه لاســه     چې ظلمونو کې مو شپې دي

*** ***

دا شعر په کال ۱۹۹۶ د نوید د جریې
په شپږمه ګڼه کې خپور شو

د وطـن پــه یــاد
Afghani_sameh_de_watan_pa_yaad.pdf